# د نارت ایسټ عالي لیسه

د فیلاډلفیا ښار د ښوونځیو ناحیه (ضلع)

محترم مور او پلار/سرپرست،

ستاسو ماشوم/ماشومه به د کیسټون ازموینې کې برخه واخلي، دغه ازموینې به د جنوري میاشتې ۷ نه ۱۶، کال ۲۰۲۰ په جریان کې ترسره شي چې د دولت لخوا ټاکل شوي معیاري ارزونه کوي. لاندې توضیحات او په ویب پا ڼه کې شامل شوي اسناد به مهم معلومات او پالیسیو په اړه معلومات درکړي ، نو مهرباني وکړئ د کتلو لپاره مو د خپل وخت څخه یو څو دقیقې وخت واخلئ.

په دی ویب پاڼه (https://nehs.philasd.org/keystone) کی شامل شوي اسناد.

١. په مکرر ډول پوښتل شوي پوښتنې – د والدینو یا سرپرست لپاره معلومات.
٢. د کیسټون او پي ایس ایس اې Keystone/PSSA ازموینې ځانګړتیاوې او هستوګنې – د ځانګړتیاوو او هستوګنې پیژندوی.
٣. والدینو ته د بریښنایي توکیو په اړه لیک – د ازموینې په جریان کې د ګرځنده تلیفونونو او همداسې نور بریښنایي توکو کارولو او پایلو په اړه د پنسلوانیا د پوهنې ریاست تګلاری تفصیلات.

د بریښنایي توکو په اړه د ښوونځي تګلاره:

لکه څنګه چې والدینو ته د بریښنایي توکو په اړه لیک کی تشریح شوی، ټول نه منل شوي بریښنایي وسیلې (د بیلګې په توګه ګرځنده تلیفونونه، ځیرمن موبائیل، ځیرمن ګړۍ(ساعت)، کیمرې او نور) او نور مخابراتي وسایلو ته به د ازموینې پرمهال کی اجازه ورنکړل شي.

لاندې کړنې به ترسره شي که چیرته کوم زده کوونکي سره د ازموینې پرمهال د بریښنایي وسیلې ملکیت وموندل شي:

- د ښوونځي کار کوونکي به دا په ډاګه کړي چې ایا دا د ازموینې امنیت یا بشپړتیا په خطر اچولو کی کارول شوی که نه.
- هغه زده کوونکي چې د ګرځنده تلیفونونو او نورو بریښنایي وسیلو له بندیز څخه سرغړونه کوي، مګر د ازموینې امنیت او بشپړتیا یې په خطر کی نوي اچولی، د تلیفون ضبط کیدو سزا سره به مخ شي او یوازې والدینو/سرپرست ته به بیرته د ټولو ازموینو بشپړیدو وروسته ورکړل شي، او ممکن د ښوونځي د ادارې لخوا ټاکل شوي نورو سزاګانو سره هم مخ شي.

لاندی کړنې به ترسره شي که چیرته یو زده کوونکی وموندل شي چې د ازموینې پرمهال د بریښنایي وسیلې څخه کار اخلي:

- د ښوونځي کار کوونکي به دا په ډاګه کړي چې ایا دا د ازموینې امنیت یا بشپړتیا په خطر اچولو کی کارول شوی او که نه.
- هغه زده کوونکي چې د ګرځنده تلیفونونو او نورو بریښنایي وسیلو له بندیز څخه سرغړونه کوي، مګر د ازموینې امنیت او بشپړتیا یې په خطر کی نه وي اچولی، د تلیفون ضبط کیدو سزا سره به مخ شي او یوازې والدینو/سرپرست ته به بیرته د ټولو ازموینو بشپړیدو وروسته ورکړل شي او ممکن د ښوونځي د ادارې لخوا ټاکل شوي نورو سزاګانو سره هم مخ شي.
- د " نمرې مه ورکوئ "لیبل به د هغه/هغې په ځوابي کتابچه کی وکارول شي، زده کوونکی به د پیل څخه ازموینه بیرته واخلي او یا هم د ورکړل شوي ازموینې لپاره به هیڅ نمره ترلاسه نکړي.
- ضبط شوی بریښنایي وسیله به ستاسو په شتون کی وکتل شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دا د ارزونې په اړه هیڅ معلومات یا مواد نلري.
- که چیرې په ارزونه یا ازموینه کی توکو سره جوړجاړی یا خطر پیښ شوی وي، نو باید بدل یا ځای په ځای شي. والدین/سرپرست او زده کوونکی ممکن د توکو بدلولو یا ځای په ځای کولو لګښت مسؤل وي.

مهرباني وکړئ پورتنۍ تګلارې په دقت سره وځیرئ او په اړه یې د خپل ماشوم سره خبرې وکړئ. د تل په څیر، موږ پدې مهم مسله کې ستاسو د بشپړې همکارۍ تمه کوو.

په درنښت،
ښاغلی عمر کروډر
د ښوونځي مدیر (پرنسپل)